

يوناما په کابل ښارکي د طالبانو بريدونو غندي چې له کبله يې پنځه تنه ووژل شول او ۵۶ نور ټپيان شول

کابل، د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ ۶مه ـ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) د نوي کال په لومړيو څو ورځو کې د طالبانو لخوا د کابل ښار په ملکي سيمو کې بريدونه غندي.

طالبانو د جنورۍ د لومړۍ او څلورمې نيټې ترمنځ د افغانستان په پلازمينه کابل کې د دريو بيلا بيلو له چاوديدونکو توکو ډکوځانمرګو موټر بمونود چاودنو مسوولیت ومانه، چې پنځه ملکي وګړي پکې ووژل شول او لږ تر لږه ۵۶ نور يې ټپيان کړل. په وژل شويو او ټپيانو کې لس ماشومان او نهه ميرمنې شاملې دي چې خپلو کورونو ته پرلاره وو ، يا په هوټل، دوکان او دفتر کې په خپل کار بوخت وو يا هم د ښار په عمومي واټونو روان وو. د ملګرملتونو څلورملکي کارکونکي هم په دغو بريدونو کې ټپيان شويدي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي مرستيال او سرپرست مارک باوډن وويل: " په ملکي سيمو کې په لويه کچه د چاوديدونکو توکو کارول، په لويه کچه افغان ماشومانو، نارينه وو او ميرمنو ته زيان رسوي." هغه زياته کړه:" په ښاري سيمو کې د ځانمرګو بريدونو له کبله خلک وژل کيږي، ټپي او معيوب کيږي، کورونه ورانيږي، سوداګري او راکړه ورکړه زيانمنيږي ، شخصي ملکيتونه تخريبيږي او ويره خپريږي."

د نوي کال په ورځ د لې جاردين په هوټل باندې د طالبانو په برید کې دوه ملکي وګړي ووژل شول او ۱۸ نورټپيان شول. د جنورۍ په ۴ مه نيټه طالبانو د کابل نړيوال هوايي ډګر ته ځيرمه دوه ځانمرګي بريدونه وکړل، چې په يوه کې يې دري تنه ووژل شول او ۳۸ نور ټپيان شول. له دې درنې ملکي مرګ ژوبلې سره سره د جنورۍ په څلورمه نيټه دويم برید د ښار په يوه بله له ګڼې ګوڼې ډکه استوګنيزه سيمه کې ترسره شو، چې تر ۸۰ زيات کورنه او دوکانونه يې وران او ويجاړ کړل.

تيره شپه د کابل په وزيرمحمد اکبرخان سيمه کې هم ديوه مقناطيسی بم چاودنه وشوه چې يوه موټر ته ور نښلول شوي وو.

نړيوال بشري قانون په روښانه توګه د ملکي خلکو په وړاندې بريدونه منع کوي او له ټولو ښکيلو غاړو غواړي، چې ملکي وګړو ته د زيان نه رسولو په برخه کې تل خپلې قانوني ژمنې په پام کې ونيسي.

دا بريدونه په داسې وخت کې ترسره کيږي، چې ډير افغانان د افغانستان د سولې د خبرو د بيا پيل کيدو لپاره هيله من دي.

يوناما په وروستيو بريدونوکې د وژل شويو قربانيانو له کورنيوسره غمرازي ښکاروي او د ټپيانو لپاره بيړنۍ روغتيا غواړي.

د راتلونکي فبروريۍ په مياشت کې به يوناما په افغانستان کې د ۲۰۱۵ کال په ترڅ کې دملکي تلفاتو په اړه خپل کلنۍ رپوټ خپورکړي.

***